**فتوی شرعی**

محترم نعمت الله (قادري) د غوښتنليک متن

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

د مجمع علمي رياست محترم مقام ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

څه فرمايي علمای دين مُبين ومفتيان شرع سيّد المرسلين، په دې مسئله کې:

د رمضان المبارک په مياشت کې، د روژې په حالت کې، که مريض پېچکارۍ (انجکشن) ولګوي، آيا په دې سره روژه ماتيږي او که نه او قضاء لازميږي که کفّاره؟

د دې وضاحت هم مطلوب دی، چې د وَريدي/ عضلاتي او سيروم يعنې د رګ، غوښې او ډرپ په ستنو (پېچکاريو) کې څه فرق شته او که حکم د ټولو يو دی.

د کتابُ الله، سنّت رسول الله او فقه حنفي په رڼا کې مُدلّل او اطمينان بخش جواب به، ستاسو لُطف، مهرباني او عظيم ديني خدمت وي (وجزاکم الله خير الجزاء، وبارک الله في علمکم وعمرکم).

المستفتي: نعمت الله (قادري)

د رياست مقام حکم: آمريت افتاء! در مورد شرعًا ابراز نظر بعمل آيد.

د افتا آمريت ګمارنه: محترم صديقی صاحب! اجراءات ګردد.

**الجواب باسم مُلهِم الصواب**

**حامدًا لله ومُصليًّا علی رسوله**

محترم مستفتي صاحب!

څه چې استفتاء کې مو ذکر کړي، د هغه په اړه بايد ووېل شي، چې:

د روژې ماتوونکي هغه څيزونه دي، چې له اصلي مَنفذ څخه، معدې يا دماغ ته ورسيږي او څه چې له اصلي منفذه، معدې يا دماغ ته نه رسيږي، روژه ورسره نه ماتيږي.

په همدې اساس، د غوښې او رګ په پېچکاريو او همدارنګه په (سېروم) سره روژه نه ماتيږي؛ ځکه په غوښه او رګ کې د پېچکارۍ او سېروم کارولو سره، دوا د بدن باطني برخې ته، د جسم مساموتو له لارې رسيږي، نه له اصلي منفذ څخه او څه چې د بدن باطن ته د مساموتو له لارې داخل شي، مُفسِد د روژې نه ګڼل کيږي.

نوې موندنې ښيي، چې د پېچکارۍ اغېزه معدې يا دماغ ته ښېخي نه رسيږي، بلکې هغه په رګونو کې، په محلولېدلو سره، بدن ته يوازې آرامي ښښي.

پېچکارۍ که د غوښې وي او که د رګ او همدارنګه سېروم، د حکم له پلوه، ترمنځ يې هېڅ توپير نشته. البته سينه او نَس کې، نيغ په نېغه د پېچکارۍ په کارولو سره، روژه ماتيږي؛ ځکه دلته دوا له منفذ (سُوري) نه باطن ته رسيږي. د احتياط له مخې، د روژې پر مهال، د رګ له پېچکارۍ څخه دې، د امکان تر کچې، ډډه وشي.

لاندې، د دې مسئلې اړوند، د حنفي فقهې معتبرو کتابونو ځينې عبارتونه دي:

۱- «**والمُفطِر إنما هو الدّاخل مِن المنافذ؛ للاتِّفاق على أنَّ مَنْ اغتَسل في ماءٍ، فوَجَد بَرْدَهُ في باطنِه، لا يُفطِر**» (رد المحتار ۲/۱۰۶، المکتبة الحبيبية).

٢- «وما يَدخُلُ مِنْ مَسَامِّ البَدَنِ مِنَ الدُّهْن لا يُفْطِرُ، هكذا في شرح المَجْمَع» (الفتاوى الهندية ٢٠٣/١، مكتبة حقانية).

٣- «وما وصَل إلى الجَوْف أو إلى الدِّماغ عن المخارق الأصليَّة كالأنف والأُذُن والدُّبُر بأن استعَط أو احتقَن أو أَقْطَر في أُذُنه فوصَل إلى الجَوف أو إلى الدِّماغ، فسَد صومُه» (بدائع الصنائع ١٤٠/٢، دار الفكر- بيروت).

۴- «وإنْ وصَل عَيْنُ الكُحْلِ إلى باطنِه، فذلك مِنْ قِبَلِ المَسَامِّ، لا مِنْ قِبَلِ الْمَسالِك [المنافذ]؛ إذْ لَيس مِنَ العَيْنِ إلى الحَلْقِ مَسْلَكٌ، فهو نظير الصَّائِم يشرَع في الماء فيجِد بُرودةَ الماءِ في كَبِدِه، وذلك لا يضُرُّه» (المبسوط للسرخسي ٦٧/٣، دار المعرفة).

۵- «انجکشن [پیچکاری] خواه در رگ باشد یا در گوشت، مُفطِر و مُفسِد صوم نیست، الا آنکه براه راست در صدر یا در بطن باشد. دلیل عدم فساد این است که در میان دست، پا و باطن منفذ نیست و دواء بذریعۂ مسامات داخل می شود، و ہر چیز که بذریعۂ مسامات داخل شود، مُفسِد روزه نیست» (فتاوی فریدیه ۴/ ۱۲۸، دار العلوم صدیقیه، صوابی).

٦- «جدید تحقیقات کی روشنی میں انجکشن کے اثرات معدہ یا دماغ تک نہیں پہنچتے، بلکہ یہ رگوں میں حلول کر کے بدن کو راحت پہنچانے کا ذریعہ بنتے ہیں، اسلیے اس سے روزہ نہیں ٹوٹتا... تاہم حتی الامکان روزہ کے حالت میں رگ والے انجکشن سے اجتناب کیا جائے» (فتاوی حقانیه ١٦٣/٤، ط٧ (١٤٣١هـ) مکتبه احمد شهید).

٧- «واضح رہے کہ انجکشن خواہ وریدی ہو یا لحمی، مُفسِد صوم نہیں ہے؛ کیونکہ انجکشن سے دوا باطن کو بذریعہ مسامات کے پہنچتی ہے نہ کہ بذریعہ منافذ، والمفطِر هو الثاني دون الأول» (فتاوی فریدیه ۴/ ۱۲۹).

٨- «سینہ اور پیٹ میں براہ راست انجکشن لگانے سے روزہ فاسد ہو جاتا ہے؛ کیونکہ یہ دوا منفذ (سوراخ) سے باطن مین داخل ہوتی ہے» (فتاوی فریدیه ۴/ ۱۳۱- ۱۳۲).

وبالله التوفيق

محمد نور "صديقي"

د دا ښکاره خبره ده، چې پیچکارۍ او د کارونې طریقه یې، نه د رسول اللهﷺ په دور کې او نه هم د مجتهدینو دور کې شتون درلود. نو د هغې حکم نه په حدیث کې او نه هم د حنفي فقهې کتابونو کې موندل کېدای شي. په همدې خاطر، فقهې نظائرو باندې د قیاسولو له لارې، د هغې شرعي حکم معلومېدلای شي.

په هر حال، ستاسو د پورتنۍ استفتا په هکله، باید ووېل شي، چې:

ډېری معاصر علماء په دې نظر دي، چې د غوښې او رګ په پیچکاریو او همدارنګه په (سېروم) سره روژه نه ماتیږي. د دوی د دې نظر مستند، د حنفي فقهې په کتابونو کې راغلي هغه دوه شرطونه دي، چې بدن ته بالواسطه د یو څیز په داخلېدلو سره، د روژې د ماتېدلو لپاره په ګوته شوي او هغه دا دي:

**لومړی:** د یاد څیز، معدې یا مغزو ته رسېدل.

**دویم:** له اصلي منافذو یا معتادو لارو (لکه غوږ، پوزه، د انسان مقعد) د هغه بدن ته ننوتل.

د دې اړوند، لاندې د حنفي فقهې د معتبرو کتابونو عبارتونه دي:

۱- «**وما وصَل إلی الجَوْف أو إلی الدِّماغ عن المخارق الأصليَّة كالأنف والأُذن والدُّبُر بأن استَعَط أو احتَقَن أو أَقْطَر في أُذُنه فوصَل إلی الجَوف أو إلی الدِّماغ، فسَد صومُه**» (بدائع الصنائع ۲/۱٤۰، دار الفکر - بیروت).

۲- «**وأمَّا ما وصَل إلی الجَوف أو إلی الدِّماغ عن غير المخارق الأصليَّة بأن داوَى الجائفةَ والآمَّةَ، فإنْ داواها بدواءٍ يابِسٍ، لا يُفسد؛ لأنه لم يصل إلی الجَوف ولا إلی الدِّماغ ... وإنْ داواها بدواءٍ رَطْبٍ، يُفسد عند أبي حنيفة، وعندهما لا يُفسد. هُما اعتبرا المخارق الأصليَّة؛ لأنَّ الوصول إلی الجوف من المخارق الأصليَّة مُتَيَقَّنٌ به، ومن غيرها مشكوكٌ فيه، فلا نحكم بالفساد مع الشَّكِّ، ولأبي حنيفة: إنَّ الدَّواء إذا كان رَطْبًا فالظَّاهر هو الوصول؛ لِوجود المَنْفَذ إلی الجوف، فيُبنی الحكم علی الظاهر**» (بدائع الصنائع ۲/۱٤۰، دار الفکر - بیروت).

۳- «**وفي دَواءِ الجائفَة والآمَّةِ أكثرُ المشائخ علی أنَّ العِبرة لِلوصولِ إلی الجَوْفِ والدِّماغ، لا لِكَوْنه رَطْبًا أو يابِسًا، حتی إذا علِم أنَّ اليابس وَصَلَ، يُفْسِد صَوْمَه، ولو علِمَ أنَّ الرَّطْب لم يَصِلْ لم يُفْسِد، هكذا في العِناية**» (الفتاوی الهندیة ۱/۲۰٤، مکتبة حقانیة).

دا چې پیچکارۍ او سېروم کې، یاد دوه شرطونه تحقق نه مومي، نو روژه ورسره نه ماتیږي. آن د نویو موندنو له مخې، د پیچکارۍ اغېزه معدې یا دماغ ته ښخې نه رسیږي، بلکې هغه په رګونو کې، په محلولېدلو سره، بدن ته یوازې آرامي ښیي (فتاوی حقانیه ٤/۱٦۳، ط۷ (۱٤۳۱هـ) مکتبه احمد شهید).

په همدې اساس، کوم څه چې د جسم د مساموتو له لارې، بدن ته ننوځي، آن که بدن ته ګټه هم رسوي، روژه ورسره نه ماتیږي:

۱- «**مَنْ اغتَسل في ماءٍ، فوَجَد بَرْدَهُ في باطِنه، لا يُفطِر**» (رد المحتار ۲/۱۰٦، المکتبة الحبیبیة).

۲- «**وإنْ وصَل عَيْنُ الكُحْلِ إلی باطِنه، فذلك مِنْ قِبَلِ المَسَامِّ، لا مِنْ قِبَلِ الْمَسالك [المنافذ]؛ إذْ لَيس مِنَ العَيْن إلی الحَلْقِ مَسْلَكٌ، فهو نظير الصَّائِم يشرَع في الماء فيجِد بُرودةَ الماءِ في كَبِدِه، وذلك لا يضُرُّه**» (المبسوط، للسرخسي ۳/٦۷، دار المعرفة).

۳- «**وما يَدخُلُ مِنْ مَسَامِّ البَدَنِ مِنَ الدُّهْن لا يُفطِرُ، هكذا في شرح المَجْمَع**» (الفتاوی الهندیة ۱/۲۰۳).

د معتادو له لارې، بدن ته د دَوا داخلولو کومې بېلګې، چې فقهاوو وړاندې کړې، هغه غوږ، پوزه او د انسان مخصوص اعضا دي. د غوږ او پوزې له لارې دوا داخلول، روژه ماتوي؛ ځکه له دغو لارو، دوا معدې یا دماغ ته رسیږي او د سړي مخصوص عضو له لارې، دوا داخلول (د ظاهر الروایه له مخې) ځکه روژه نه ماتوي، چې دوا معدې ته نه رسیږي:

**١- «ومَن احتَقَن أو استَعَط أو أَقْطَر [أي الدُّهنَ] في أُذُنِه، أَفْطَر؛ ... ولِوجود معنى الْفِطْر، وهو وُصول ما فيه صلاحُ البَدن إلى الجَوْف، ولا كَفَّارة عليه؛ لِانعدامِه صُورةً»** (العناية شرح الهداية ٢/٣٤١-٣٤٢، دار الفكر - بيروت).

**٢- «ولو أَقْطَرَ في إِحْلِيله، لم يُفطِر عند أبي حنيفة. وقال أبو يوسف رحمه الله: يُفطِر. وقول محمد -رحمه الله- مُضْطَرِبٌ فيه، فكأنه وقَع عند أبي يوسف -رحمه الله- أنَّ بينه وبين الجوف مَنْفَذًا؛ ولهذا يخرُج منه البول. ووقع عند أبي حنيفة -رحمه الله- أنَّ المثانَة بينهما حائِلٌ، والبولُ يترَشَّح منه»** (الهداية في شرح بداية المبتدي ١/ ٢٠٢، امير حمزه کتابخانه).

**٣- «وإن أَقْطَر في إِحْلِيله ماءً أو دُهنًا، لم يُفْطِر عند أبي حنيفة. وقال أبو يوسف: يُفطِر. قال في الاختيار: هذا بناءً على أنَّ بينه وبين الجوف مَنْفَذًا، والأَصَحّ أنه ليس بينهما مَنْفَذٌ. قال في التحفة: وروى الحَسن عن أبي حنيفة مثلَ قولِهما، وهوالصَّحيح. لكن اعتمد الأوَّلَ المَحبوبي والنَّسفي وصدرُ الشَّريعة وأبو الفضل الموصلي، وهو الأَولى؛ لأنَّ المصنِّف في (التقريب) حقَّق أنه ظاهر الرواية في مقابلة قول أبي يوسف وحده»** (اللباب في شرح الكتاب ١/ ١٦٨- ١٦٩، المكتبة العلمية - بيروت).

د درملنې په موخه، د دوا اچولو دوه نورې بېلګې دي، چې له معتادو لارې دوا بدن ته نه داخلیږي، خو بیا هم د ځینو فقهاوو په آند، روژه ورسره ماتیږي: یوه یې د سر د هغه ټپ درملنه ده، چې مغزو ته رسېدلی وي او د فقهي کتابونه کې په (آمّه) سره یاد شوی او بله یوه یې د نس د هغه ټپ درملنه ده، چې معدې ته رسېدلی وي او فقه کې ورڅخه په (جائفه) تعبیر شوی. دې دوو صورتونو کې، د روژې ماتېدلو وجه دا ښودل شوې، چې دوا بې له واسطې نیغ په نیغه، مغزو او معدې ته رسیږي (مسائل رفعت قاسمي ٤/١٢٨، وحيدى كتب خانه).

په پای کې، پورته فقهي عبارتونو ته په کتو، په لنډ ډول ویلای شو، چې په غوښه او رګ کې په پیچکارۍ او هم په (سېروم) سره، روژه نه ماتیږي، همدا د ټولو حکم دی. البته لاندې دوه خبرې په پام کې نیول پکار دي:

**لومړی:** پیچکارۍ یا سېروم، باید یوازې د درملنې لپاره وي.

**دویمه:** د احتیاط له مخې، د روژې پر مهال، د رګ له پیچکارۍ څخه دې، د امکان تر کچې، ډډه وشي.

د لا زیاتو معلوماتو او داړ ترلاسه کولو لپاره، لاندې مصادرو ته مراجعه کولای شئ:

- فتاوی رحیمیه ٧/ ٢٥٧، ٢٦٣، دار الاشاعت- کراچی.
- فتاوی حقانیه ٤/١٦٢ - ١٦٣، مکتبه سید احمد شهید - اکوړه خټک.
- مسائل رفعت قاسمی ٤/ ١٢٩، ١٣١، حامد کتب خانه - کراچی.
- آپکے مسائل او انکا حل ٤/ ٥٧٨، ٥٨١ - ٥٨٢، مکتبه لدهیانوی - کراچی.

محمد نور (صدیقي)